مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۲/۰۶

# د خوشحالخان ختک آثار

## بازنامه

## لومړۍ برخه

## خوشحال پوهنه

## ۳۵



انځور له بي بي سي پښتو څخه

خدایه! تــه پــه زړه کــې اچــوې دا مینې
چې په ښـکار دې مبـتـلا کړم ته مې وینې

چې ښـې کیـڼ مـې پېـژنـدلي دي دا میـنه
تـا زمـا پـه زړه کې ځـای کـړلـه قـرینه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په طفلۍ مې د چمن د چتو ښکار کړ
زلمیتوب مې له هوسیو سریکار کړ

کتابونه د هر فن راخخه نور شته
خو زما له بازنامې سره سرور شته

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواڼي اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۵۷ مخ)

څه موده مخکې (۲۰۱۸/۱۱/۱۹) مې په «بي بي سي پښتو» ویبپاڼې کې «د باز نړیواله ورځ» سرلیک تر سترګو شو. زما ورته بېږه شوه چې د باز نړیواله ورځ، بیا په بي بي سي کې پرې رپوټ؟ ما ویل چې دوی به خامخا په پښتو ادب کې د بازانو د روزلو په برخه چې په نظم او نثر کوم کتابونه او یادونې شوې دي، هغه به یې را اخیستي وي او بیا په تیره د خوشال بابا د باز نامې او دستار نامې یادونه به شوې وي، خو چې سرلیک مې پرانست، کټل مې چې د عربي هېوادونو د باز ساتونکو څو عکسونه اېښودل شوي دي او بس.
ما هم اړینه وګڼله چې د همدې ورځې له نامه او موقع نه په استفادې سره، د خوشال پوهنې په پنځه دیرشمه (۳۵) برخه کې د خوشالخان د آثارو له ډلې نه پر بازنامې، ښکار او باز د خوشالخان له نظره خبرې وکړم او د باز او ښکار په باب د ده پر ځانګړي اثر بازنامې، د دستار نامې پر اتم هنر او دوو هغو قصیدو وغږېږم چې خوشال د ښکار، باز او د بازانو د ساتلو، تداوي، ښکار ته چمتو کولو او... باندې خبرې کړې دي او له ښکار او باز سره یې خپله مینه څرګنده کړې ده.
خوشال خان خټک به ډېر ځلې په خپلو اشعارو کې د باز یادونه کړې وي، چې پلټنه یې وخت او زیار غواړي، خو د خپلو اثارو په دریو برخو کې یې په مفصل ډول د ښکار او باز په باب بحث کړی دی:

**ـ منظومه بازنامه،**

**ـ دستار نامه،**

**ـ دوې قصیدې یې هم باز او ښکار ته وقف کړې دي چې د کوچنیو بازنامو بڼه لري:**

**(۱ ـ لنډۍ بازنامه، ۲ ـ د دیرشو بیتونو بازنامه)**

**۱ ـ منظومه بازنامه:**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د خوشال په منظومو آثارو کي يو هم بازنامه ده. دا اثر خوشال خان د مثنوي په قالب کي په ۱۰۸۵ هـ - ق کي، په اوه څلويښت (۴۷) فصلونو او څو متفرقاتو کي، د ۹۱۹ بيتونو په قالب کي د ښېرو ورځو په ترڅ کي هغه وخت نظم کړه چي سوات ته د تګ په لاره کي د مردان په رستم نومي ځاى کي تم شوى و.

په فارسي مي بازنامه ده ورته کښلي
په پښتو مي ورته وکښه نظم کښلي

په نهه سوه او نونس بيته تم شوه
خاتمه د دي ښه نظم په رستم شوه

که ښيينه، که علاج که غزلونه
همګي لري اوه څلويښت بابونه

زر پنځه اتيا کلونه د هجرت دي
د رجب ورځي اخر شوي نهايت دي

په لړم کي مي شروعه بازنامه کړه
په شيږ ورځي مي تمامه په خامه کړه

چي زما ژبه ګويا په شاعرى شوه
ته به وايي چي ګويا په ساحرى شوه

طبيعت مي په مثال د باتور باز دى
که يي ګوري د هر څه وښکار ته ساز دى

(د خوشال کليات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۵۸ مخ)

د خوشال له آثارو او د ده په باب له ليکل شوو آثارو او څيړنو نه داسي ښکاري چي خوشال له ښکار، بيا د بازانو په وسيله له ښکار سره او په خپله له بازانو سره ډيره مينه درلوده. د ده بازنامه د دي خبري ښه سند کېداى شي.
سر محقق زلمى هېوادمل په خپل «ننګيالى د زماني» نومي اثر کي د خوشال د بازنامي په باب داسي ليکلي دي:

«د بازونو له ساتلو(باز دارى) او پر بازونو له ښکار سره، د خوشحال خان د زړه مينه وه. باز د ده په شاعرى کي د توري ا ميراني د سمبول په حيث جوت ځاى لري. د بازونو د روزني او ساتني چمونه ورښکاره وو...
د بازنامي خطي نسخي پيدا کېږي. د افغانستان په ملي آرشيف کي يي يوه نسخه شته، نورى نسخي يي هم ليدل شوي.
لومړى ځل د ارواښاد رښتين په زيار په ۱۳۳۲ هـ ق (۱۹۵۳ م کال) د پښتو ټولني له خوا په کابل کي چاپ او خپره شوه. بازنامه وروسته بيا هم په کابل او پېښور کي چاپ شوى ده.»

(هېوادمل زلمى سرمحقق، ننګيالى د زماني، د افغانستان د فرهنګي ودې ټولنه - جرمني، ۲۰۰۱ م کال، ۱۸۴ ـ ۱۸۴ مخونه)

اوس زه د خوشال د بازنامي هغه بشپړ متن په واک کي لرم چي د ده په هغو کلياتو کي راوړل شوى دى چي ښاغلي عبدالقيم زاهد مشواني برابر کړى دى.

د پنځه ديرشمي برخي پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزى بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ